# د یوناما خبری کنفرانس

د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**مارک وارد، د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی خاص سلاکار په پرمختیایی چارو کی**

**داکتر نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د جولای د میاشتی شپږمه نیټه ، کال ۲۰۰۹*

**مارک وارد، د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی خاص سلاکار په پرمختیایی چارو کی**

سهار مو په خیر، ستاسو د راتګ څخه مننه. زه غواړم نن دوه پوښتنو ته ځواب ووایم. هرڅوک د تمویل کوونکو د همغږی په هکله خبری کوي، خو په رښتیا سره څومره خلک په دې پوهیږي چې د تمویل کوونکو همغږي څه ته وايي.

یوناما زه په دې کار ګمارلي یم څو د تمویل کوونکو د همغږی د هڅو مشری وکړم، نو زه باید په دې هکله معلومات ولرم، سمه ده؟ اجازه راکړئ په دې اړه څه معلومات در کړم. کله چې تمویل کوونکی او حکومت په ګډه کار وکړي نود هغه اغیزې ډیرې وي. موږ په یوناما کې په کلکه په دې باور یو. دا خبره واقعیتونه په اثبات رسوي.

دا د تمویل کوونکو همغږي ده: تمویل کوونکی او حکومت په ګډه کار کوي. په رښتیا سره په ګډه کار کوي. هغوي نه یوازې یو بل ته دامعلومات ورکوي چې هغوي څه پلانوي بلکه هغه څه پلانوي چې هغوي به یې یو ځای پرمخ وړي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د یوناما څخه غوښتي دي چې په افغانستان کې د تمویل کوونکو د همغږي مسوولیت پر غاړه واخلي، موږ کوښښ کوو چې دا کا رپرمخ بوځو.

خو په رښتیا سره دا د افغانستان د حکومت دنده ده چې په هیواد کې د تمویل کونکو د همغږی چارې پرمخ بوځي.

دا یوازې دومره نه ده چې تمویل کونکو ته ووایي چې هغوی باید په ښه توګه همغږي شي، خو د تمویل کوونکو لپاره د لا زیاتو مرستو د ترلاسه کولو په خاطر ښه پروګرامونه جوړ کړي. موږ د تیرو میاشتو په ترڅ کې ولیدل چې کله هم د وزارتونو په کچه ښه رهبري موجوده وي او ښه وړاندیزونه یا پروپوزل تیار کړي بیا تمویل کونکی د دغو پروژو د تمویل لپاره چمتوالی ښیي.

زه به یو څو بیلګې وړاندې کړم: د کرنې وزارت یوه ښه بیلګه ده. د اکتوبر په میاشت کې د وزرات په کچه د مشری بدلون رامنځته شو. د تیر اپریل د JCMB په غونډه کې د کرنې وزیر د لومړیتوب ۵ پروګرامونه معرفي کړل اود تمویل کوونکي ټولني څخه یې وغوښتل چې له دوي سره د دې پروګرامونو د تمویل په برخه کې مرسته وکړي. دا پروګرامونه د تمویل کوونکو خوښ شول او اوس مهال وزارت د دغو پروګرامونو د تمویل لپاره مرستي تر لاسه کوي. دا پروژې تر اوسه په بشپړه توګه نه دې تمویل شوې خو پیل یې شوی دی. د یوه غښتلي لیډرشپ او مشری تر شا ریښتیني پرمختګ پروت دی.

په دې هکله به ښه بیلګه د ملکي تخنیکي مرستي پلان دی چې د مالیې د وزارت له خوا تیار شوی. دا پلان چې د یو شمیر زیاتو وزارتونو په ګډه همکاری تیار شوی، کولای شي هغي تخنیکي مرستي ته چې د افغانستان د حکومت له خوا پیژندل شوي ده لا هم زیاتوال ور کړي، حکومتي چارواکو ته به راپور او مشورې ورکړي. هغوي به د کارپوهانو په پرتله زیات موثر وي ځکه چې هغوي به د هغوي په ژبه خبرې و کړي، د کلتور سره به اشنایي ولري، زیاتو امنیتي ځواکونو او د اوسیدو لپاره به هم ډیر وخت ته اړتیا و نه لري.

د حکومت پلان به د چهارشنبې په ورځ د JCMB په غونډه کې دونرانو ته په رسمي ډول وړاندې شي، لا د مخه هم ځینو مرستندویو داسی انګیرنه کړې چې د دی پلان څخه به ملاتړ وکړی.

د دونرانو همغږ ي کول ولې دومره ډیر مهم دی؟ په دې کار کې څه ګټه شته؟ ساده خبره ده: که مرستندویان او حکومت په یوه نتیجه کې یو ځای کار وکړي د دې فرصت پیدا کیږي چې اوږد مهاله اغیزی یې نوری هم زیاتې شي.

له پخوا څخه موږ دوه بیلګې لرو چې دغه ټکي ښه روښانه کولای شي:

د عامې روغتیا او پوهنې په وزارتونو کې داسې پراخ پروګرامونه تیار شوی وو چې د حکومت له خوا يې مشري کیدله. دغه کار دونران دې ته اړ کړل چې خپلې ونډې د حکومت د لومړیتوبونو شاته سره را غونډې کړي.

ما وویل چې اړ شول ځکه وزیران دې ته اړ شول چې په واقعي ډول مشرتوب وکړي او مرستندویانو ته ووایي چې څه وکړي.

دا تصادفي خبره نه ده چې دغه دوه سکټورونه ولې نن ورځ دومره اغیزه لري، د افغانستان په سلو کې ۸۰ خلک نن ورځ لومړنی روغتیايي خدمتونو ته لاسرسي لري او له شپږ میلیونو څخه زیات افغان ماشومان اوس ښوونځیو ته ځي.

دغه کار بې له دې ممکن نه و چې حکومت یوه ښه مشرتوب وکړي او مرستندویانی د هغه شا ته ودریږي. ځکه که مرستندویان له حکومت سره همغږي شي نتیجې به ډیرې ښې راشي.

ما وویل چې خبره تر ډیره حده په دې پورې تړلې ده چې حکومت څنګه کولای شي چې ښه پروګرامونه طرح کړي. خو د داسې پروګرامونو طرح کول چې د دونرانو مرستې ځان ته راجلب کړي اسانه کار نه دی. حکومت د داسې پروګرامونو په طرح کولو کې مرستې ته اړتیا لري.

یوناما کولای شي چې په دې برخه کې مهم نقش ولري. کله چې د کرنې وزیر په کار پیل وکړ هغه له دونرانو څخه غوښتنه وکړه چې د پنځو لومړیتوبونو په لیکلو کې ورسره مرسته وکړي. هغه دغه کار د یوناما په مرسته ترسره کړ.

د سوداګرۍ وزیر اوس د همدغسې مرستې په لټه کې دی، هغه ډیرې ښې نظریې لری او غواړی چې هغه په ښه پروګرامونو باندی بدلې کړي. یوناما هڅه کوي چې مرستندویه هیوادونه له دی وزارت سره هم مرسته وکړي.

د یوناما کار وروسته له هغه چې ښه پروګرامونه طرح او دونرانو ته وړاندې شول ادامه لري.

تر دې وروسته موږ باید دونران دې وهڅوو چې هغه ژر تر ژره تمویل کړي. زیات دونران غواړي چې خپل لګښتونه د وړاندې څخه پلان کړي. هغه د وروستنی دقیقې بدلونونه او لومړیتوبونه نه خوښوي. نو ځکه موږ باید هغه وهڅوو څو انعطاف منونکې وي او خپلې بودجې د وزارتونو د عاجلو نویو پروګرامونو د بودجو په ملاتړ کې تغیرې کړي. دا موږ ته تر یوه حده پورې دونرانو په وړاندې شهرت راکوي.

خو ټولې ښې مفکورې د دولت د لارې نه راځي. دونران هم ښه نظریات لري.

زموږ دنده په یوناما کې دا ده چې دا باوري کړو چې دونران نوې پروګرامونه پرته له دې چې د حکومت او نورو دونرانو سره يې لومړی د بحث لاندې ونیسي، پیل نه کړي. د دې پرته همغږي له منځه ځي او موږ به وګورو چې دونران هر یو د بل پروګرام تکراروي، او دا چې دونران د تیر وخت تیروتنې تکراروي.

نو ځکه حکومت د یوناما سره په همکارۍ کې خپله ازمایښتې د "همکارانو ارزونه" میکانیزم د کرنې او عامې روغتیا په وزارتونو کې په لاره اچولی دی.

که چیرې دونران غواړي چې په یو سکتور کی نوی پروګرامونه پیل کړی، نو هغوي دې ته اړ دي چې اړوند وزارت د مالیې وزارت او کلیدي دونرانو ته چې په دغه سکتور کې کار کوي د پیشنهاد یا پروپوزل طرح وړاندې کړي. هغوي د وړاندیز په دغه مسود ه غور کوي او د ۳۰ ورځو د ننه به خپلې تبصرې بیرته دونر ته ورکوي. دا به په تکرار کې کمښت راوړي او په راتلونکې وخت کې به پروګرامونه د حکومت د لومړیتوبونو سره سم په ښه توګه طرح شي. دغه ازمایښتې کار په اپریل کې پیل شوی دی.

موږ ټول، حکومت، یوناما او دونران د دونرانو د همغږۍ لپاره اوږده لار په مخ کې لرو.

دونران د هرو دريو ډالرو څخه دوه يې د حکومت د بودجې څخه د باندې لګوي چې دا ډيره ستونزمنوې ځو دا باوري شي چې د دونرانو پروګرامونه د حکومت د لومړيتوبونو سره په يوه ليکه کې دي. دا غير ممکنه نه ده خو ډيره مشکله ده.

او حتی دا چې ځيني دونران حکومت ته دا نه وايي چې هغوي دلته څه مصرف کوي. موږ د دې تخمين کوو چې د مصرف شوو پيسو څخه يوه په دريمه يې د بودجې څخه د باندې لګول شوي ده حتی ددې راپور هم د ماليې وزارت د ارقامو ډيتابيس ته نه دی ورکړل شوی او دا چې ډونرانو دغه ارقام ساتلي دي!

يوناما دا د شرم ځای ګڼي او حکومت دې ته هڅوي چې په عام ډول هغه دونران تشخيص کړي چې د هغه څخه راپور نه ورکوي چې دوي مصرفوي.

زه هيله لرم چې د ډونرانو د همغږۍ اصطلاح مې يو څه واضحه کړې وي. ستاسي پوښتنو ته ښه راغلاست وايم.
يوناما او دولت نه شي کولای چې يوازې د مرستندويانو همغږي راولي. موږ د مرستندويانو سخاوتمندانه مرستو ته اړتيا لرو. خو موږ همدارنګه دې ته اړ يو چې د هغوي ځيني روشونو ته تغير ورکړو.

نو ځکه يوناما په مرستندويانو غږ کوي چې څلور شيا ن ه متفاوت ډول ترسره کړي:

- د دولت د ځينو نوو پروګرامونو ملاتړ وکړي، کله چې دولت هغه اعلاموي.
- د خپل تمويل او مرستې سره انعطاف ولري کله چې حکومت يو لومړيتوب وټاکي، کله چې په عاجله توګه اړتياوې، نو موږ بايد هغې ته ځواب ووايو.
- د ملکي متخصصانو لپاره د دولت د نوو پلانونو ملاتړ وشي، څو چې موږ په افغانستان کې متخصصانو لپاره د دولت د نوو پلانونو ملاتړولرو ، څو چې موږ په افغانستان کې متخصصان وګورو څوک چې افغانانو ته ځواب وايي، هغوي هڅه کوي چې ملاتړ وکړي او دا به په هيواد کې ډيره اغيزمنه وي.
- په پای کې تر ټولو اسانه کار: د هغه دريو څخه يو دونر چې د ماليې وزارت ته ارقام نه ورکوی او دا چې په افغانستان کې مصرف کوي، په کار ده چې هغوي دغه ارقام برابر کړي

**پوښتني او ځوابونه:**
**راه نجات:** په داسې حال کې چې د تمويل کوونکو ټولنو ملاتړ زياتره سمبوليکه بڼه لري، تاسو څنګه کولای شي چې تمويل کونکو ته په دې اړه قناعت ورکړي او هغوي وهڅوئ څو زياتې مرستې برابرې کړي؟

**مارک وارد:** دا يوه ډيره ښه پوښتنه ده. ځيني وختونو تمويل کونکي نورې پوښتنې مطرح کوي. ولې بايد موږ ښه همغږي شو. ځواب ډير ساده دی. تمويل کونکی غواړي بريالی شي او د داسې پروګرامونو سره ځان يو ځای کړي لکه بيلګې چې يې موږ د ښوونې او روزنې او عامه روغتيا په ډګرونو کې ګورو. هغوي غواړي چې د برياليو پروګرامونو يوه برخه و اوسي. که چيرې هغوي د ښه حکومت د پروګرامونو تر شا و اوسي نو هرومرو د بريالي پروګرامونو يوه برخه وي.

**آزاد خبريال:** ښکاري چې تاسو د مرستندويانو د حسابدهی مسووليت د افغانستان د حکومت په غاړه واچوو آيا دا د افغانستان لپاره چې په دی مرستندويه باندی متکی دی ګران کار به نه وي چې د تمويل کوونکو څخه استنطاق وکړي. ايا دا به د يوناما لپاره اسانه نه وي چې دا کار پخپله پر غاړه واخلي؟ زه همدارنګه حيران يم چې تاسو د تمويل د موثريت د دوو مهمو نکتو په اړه څه اقدامات ترسره کړي دي. هغه په برخه باندې د پيسو لګول دي چيرې چې د سترو تمويل کوونکو ملکونو ځواکونه ميشت دي، د مرستو د ويش مسله ده. همدارنګه داخلي قانون، د بيلګې په توګه د متحده ايالاتو د لا همغږۍ څخه يې مخنيوی کوي.

**مارک وارد:** د يوناما د دندو له جملې څخه يوه هم د مخکښه وزارتونو په دننه کې د ظرفيت جوړول دي، او همدارنګه د ماليې وزارت بايد د تمويل خپله همغږي پرمخ بوځي. که چيرې موږ وغواړو چې د يوناما په کچه بريالی و اوسو، نو بيا به تاسو زموږ په شان د عامه روغتيا او پوهنې په وزارتونو کې د حکومت په دننه کې مشرتوب ووينې او دا وزارتونه کولای شي تمويل کوونکو ته نه هم ووايي. موږ اوس ليدرشپ د کابينې، ماليې، تجارت او کرنې د وزارتونو په کچو کې ګورو او دا د تمويل د همغږي يوه برخه ده.

که چیري وکولای شو چې تمویل کونکو ته دا ووایو چې موږ دغه شي ته ضرورت نه بلکه هغه شی ته ضروروت لرو نو بیا تاسو د هیواد په کچه د مرستو د ویش په هکله ښه پوښتنه مطرح کوي، او په دې هکله زموږ پیغام ډیر روښانه دی. که څه هم چې موږ په یوناما کې په دې پوهیږو چې پر ځینو هیوادونو ډیر فشار دی چې خپل تمویل پر هغو ولایتونو متمرکز کړي چیرې چې د هغوي ځواکونه میشت دي، خو موږ د هغو ولایتونو په اړه هم اندیښنه لرو چې تر اوسه ورته پاملرنه نه ده شوی. زموږ غوښتنه د تمویل کونکو هیوادونو څخه ډیره ساده ده. زما کارکونکي په دې اړه ډیر معلومات لري. د هغو پیسو ډیره لړه سلنه په نظر کې ونیسئ چې تاسو یې په هغو ولایتونو کې چیرې چې ستاسو ځواکونه میشت دي لګوي، په هغو ولایتونو کې هم پیسې ولګوئ کوم چې له نظره لویدلی دي او دا پیسې به ډیر ځای ونیسي.

**د نورین تلویزیون:** دولت د غو مرستو په اړه شکایت لري چې د مرسته کوونکو له خوا مصرفیږي. دولت ویلي دي چې د دغو مرستو ۳۰ سلنه د دولت له خوا مصرف شوي، په داسي حال کې چې ۷۰ سلنه یې پخپله د دونرانو له خوا مصرف شوی ده. یوناما تر کومه حده پور دغه هیوادونه په دې ژمن کړی دي چې د دولت له لارې خپل مصرفونه زیات کړي؟

**مارک وارد:** شمیرې سمي دي. دا هغه څه دي چې ما وویل چې د دریو ډالرو څخه د دوه یې د دولت څخه د باندې مصرف شوي دي. دا سمه ده. دلته پوښتنه دا ده چې موږ په دې اړه څه کول غواړو؟ یو ځواب دا دی لکه چې ما تر مخه وویل: ښه دولتي پروګرامونه دونرانو ته په میز کینودل شي څو هغوي یې تمویل کړي. دونرانو د نړۍ په کچه په بیلا بیلو کنفرانسونو کې ژمنه کړې ده، تر ټولو وروستنی ژمنې په پاریس او هاګ کې وشوې څو د دولتي پروګرامونو د لارې د هغوي تمویل زیات کړای شي.

خو د دونرانو د دولتونو مرکزونه او پارلمانونه هغوي نه پریږدي چې هغوي خپلې پانګې په دولتي پروګرامونو کې ولګوي چ دا سم کار نه دی. نو ځکه ما وویل چې موږ ډیر زیات د دولت سره په مرسته تمرکز کوو. د دغو د مشرتابه د وزارتونو سره د مرستي کولو د لارې لکه چې ما وویل د ښو پروګرامونو په طرح کولو کیږي. څو په دې توګه موږ دونران دې ته راوبولو چې د دغو پروګرامونو لپاره پیسې ځانګړې کړي.

**د امریکا غږ:** د دولت له خوا د مرستو مصرفول د ډیر وخت څخه د دولت او دونرانو ترمنځ مطرح ده. د دې لامل چې دونران وایي چې ظرفیت نشته او فساد موجود دی. آیا تاسو فکر کوئ چې دغه مسلې به حل شي؟ یعنې د ظرفیت د نشتوالی او د فساد شتون مسلې؟

**مارک وارد ا:** دونرانو د خپلو مرستو په برخه کې ډیر شرایط ایښي دي او د افغانستان دولت په دې پوهیږي. یو ځل بیا د دونرانو د هیوادونو د مرکزونو او د هغوي پارلمانونو ته په مراجعې سره هغوي باید په دې ټینګار ولري چې د هغوي پانګې سمې کارول شوي دي. بلې، ځینې وزارتونه په ښه توګه د پانګو لپاره احتساب لري او د دې نتیجې شته. دونرانو اوس د دغو وزارتونو په نیغه ملاتړ پیل کړی دی.

یو له هغو لاملونو څخه چې یوناما او موږ یې هیله لرو دا دی چې دونران غواړي د دولت د نوو ملکي ماهرانو ملاتړ وکړي، څو چې موږ د ظرفیت جوړولو کار په ډیرو وزارتونو کې چټک کړو، څو چې د دولت له لارې زیات تمویل ترسره شي.

**پژواک:** زه غواړو وپوهیږم چې ایا مرستي په دې برخه کې اغیزناکي وي او که نه؟ تاسې دغه مرستي د غیر حکومتي موسسو او که د حکومت له لارې اغیزناکي بولئ؟

**مارک وارد:** زه هیله من یم چې موږ یوه بله داسي غونډه ولرو چې د مرستو د اغیزنمنتوب په باب نوری مباحثي وکړو، ځکه دا یوه بېله موضوع ده او نورې خبرې په دې پورې تړلې دي. او موږ دا هڅه و نه کړه چې ټولې دغه مسالې وڅیړو مګر دا یوه ډیره ښه پوښتنه ده او زه غواړم چې د حکومت د ملکي ماهرینو د پلان شا ته یوه اصل دا دی چې ماهرین باید په عملي ډګر کې ډیر اغیزمن وي. دوي باید په ژبو باندې پوهیږي، له کلتور سره اشنا وي، دوي باید په دې توانیږي چې ازاد وګرځي بې له دې چې امنیتي کسان ورسره وي او دوي باید د دې خواهش ولري چې د زیات وخت لپاره پاتې شي.

همدغه خبره د قراردادیانو او د هغو غیر حکومتي موسسو په باره کي هم کیدای شي چي دونران یی د کار لپاره استخداموي. تاسي وایاست چي زیاته پوه لرم. څوک کیدای شي په افغانستان کي زيات اغیزمن ثابت شي؟ یوه کمپني له امریکا څخه چي مخکي یی دلته په افغانستان کي کار نه وي کړي او که یوه افغاني کمپني؟ دا یو هغه ټکی دی چي موږ مخواړو د مرستو د اغیزمنتوب په باب یي وکړو او هڅه کوو دونران له دې څخه منع کړو چي له څپلو ملکونو څخه کمپنی راولي، بلکه افغاني کمپنيو ته کارونه ورکړي. اوس که تاسي د دغي خبرې راپور ورکړي، زه به په دې پوه شم چي تاسي زیاته پوهه لرئ.

**آریانا تلویزیون:** تاسي مخکي د ځینو دونرانو خبره یاده کړه چي نه غواړي په دې باب راپور ورکړي چي پیسي یي په افغانستان کي کله مصرف کړې دي، د دوي د راپور د نه ورکولو علت څه دی؟ او د تیرو اوو کلونو راهیسي افغانستان ته د ورکړل شویو مرستو اندازه څومره ده؟ تاسي فکر کوئ چي هغه غیر حکومتي موسسي چي نه غواړي په دې باب راپورونه ورکړي ددې فساد یوه برخه جوړوي؟

**مارک وارد:** زه له غیر حکومتي موسسو څخه شکایت نه کوم. زما شکایت له دونرانو څخه دی چي له هغو غیر حکومتي موسسو سره مرسته کوي چي د مالیي وزارت ته راپور نه ورکوي.

**تمدن تلویزیون:** تاسي وویل چي د همغږي په باب هڅي کوئ. تاسي له غیر حکومتي موسسو څخه شکایت نه لرئ، مګر له هغو دونرانو څخه شاکی یاست چي له غیر حکومتي موسسو سره مرستي کوي. تاسي فکر کوئ چي یوناما ددې توان لري چي ددې پوښتنه وکړي، په داسي حال کي چي دونران تر یوې اندازې پوري ددې مسوولیت لري او یا ددې فساد یوه برخه ده؟

**مارک وارد:** که پوښتنه د یوناما په ظرفیت پورې اړه ولري، موږ کولای شو چي نوره مرسته وکړو. څو دونران شته چي زيات زیار ګالي او د یوې نوې څانګي جوړول په یوناما کي چي د همغږي کار په مخ بوځي، یو ګواښ دی. خو موږ په دې برخه کي یوازې نه یو. د مالیي په وزارت کي د دې لپاره یوه ډیره پراخه څانګه شته. او د اقتصاد په وزارت کي یوه بله څانګه پیدا شوي ده. دغه څانګي له موږ سره ډیره همکاري کوي چي د دونرانو فعالتیونه سره همغږي کړو. زه باید ووایم چي دا لا تر اوسه د پرمختګ په حال کي ده. خو زه له تاسي ټولو څخه غوښتنه کوم چي له موږ څخه دا ډول پوښتني وکړئ. تاسي به په راتلونو میاشتو کي له ځوابونو څخه راضي و اوسئ.

-----------------------------------